# شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

چهارشنبه | د ربیع الثاني ۳-۱٤٤٥ / د تلې ۲٦-۱٤۰۲ /د اکتوبر ۱۸-۲۰۲۳ /دوهم کال / ۷۰ ګڼه/ ٤ مخیز



**اتحاد او یووالی**

**د حدیث ژباړه:** په خپل منځ کي محبت ، یو پر بل په رحم او نرمي کولو کي د مؤمنانو مثال د یوه جسم په شان دئ، چي که چیري د ده یو اندام ناروغه سي؛ نو ټول جسم ئې بې قراري او تبه محسوسوي. د زړه نرم والی رحمت ته وایي او د دې رحمت په خارج کي اثر وي؛ لکه: عفو درګزر یعني یو ګناهګار معافول، د عاجزانو سره احسان کول، د کمزورو سره تعاون کول او داسي نور... : صحیح مسلم باب تراحم المؤمنین (ص: ۳۲۱ ج: ۲)

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سرمقاله

### نقش شاهراهای بزرگ در اقتصاد کشور

رشد در هر جایی نشانه از بالغ شدن را به تصویر میکشد، اگر این رشد مربوط به رشد اقتصادی باشد بدین معنی که یک جامعه صادقانه به رشد و ثبات اقتصادی کشور خویش رسیده است. در واقع رشد اقتصادی میتواند در افزایش تولید کالا ها، افزایش تقاضا و خدمات اقتصادی در کشور تعریف گردد. در کل رشد اقتصادی تحت تاثیر عوامل و فکتور های مختلفی صورت میگیرد. در اقتصاد، رشد اقتصادی اکثراً به عنوان تابعی از سرمایه انسانی، سرمایه فزیکی، نیروی کار و فناوری ترتیب می شود. بدین اساس برای رشد اقتصادی و رسیدن به ثبات اقتصادی کشور شاهراهای بزرگ برای تجارت و ایجاد نظام مناسب تراسپورتی یکی از فکتور های نهایت با ارزش برای رشد اقتصادی محسوس می شود. به این اساس گفته میتوانیم تنها نظر به موقعیت ژیولیتیکی افغانستان، ایفای نقش بزرگ اقتصادی این موقعیت نهایت پر ارزش پنداشته میشود، که با اجرای پروژهای بزرگ اقتصادی و ایجاد شاهراهای برزگ تجارتی میتواند محور همگرایی اقتصادی منطقه ای باشد. باید گفت که پدیده ترانسپورت و ترانزیت یکی از عوامل نهایت با ارزش در عصر حاضر و در هر زمان بوده که در رشد و شکوفایی ثبات اقتصادی ملت و ایجاد رفاه در اجتماع های مختلف رول عمده خویش را داشته است. بعد از پیروزی امارت اسلامی افغانستان، رهبری امارت اسلامی افغانستان در پهلوی فکتور های با ارزش برای رشد اقتصادی کشور، بر ایجاد زیر بناها و ایجاد سهولت ها و در ترمیم شاهراهای بزرگ که برای اقتصاد کشور نهایت با ارزش پنداشته می شد توجه خاص اتخاذ نموده و همواره سعی بر آن است تا از مناسب ترین سیستم در حمل و نقل که از لحاظ اقتصادی بر صرفه، از لحاظ زمانی در برگیرنده وقت کم و از دید رفاه و آسایش دارای تجهیزات و امکانات مدرن برای راحتی هر چی بیشتر مسافرین و ایمنی هر چه بیشتر مواد کالاها انتقالی باشد استفاده نماید. چون نظر به اهمیت و نقش راه های مواصلاتی و سیستم های ترانسپورتی، افغانستان از جمله کشور های پنداشته می شود که نظر به جغرافیا، این کشور محاط به خشکه بوده و از سوی دیگر این کشور در موقعیت قرار دارد که پیوند دهنده کشور های مختلف اسیایی می باشد، از این لحاظ انکشافات در سیستم ترانسپورتی و ایجاد شاهراها که بتواند تمام سهولت ها و از ضیاع وقت جلوگیری نماید نهایت مهم بوده و میتواند باعث رشد خوبی در اقتصاد کشور گردد. در کل گفته میتوانیم شاهراهای افغانستان به سه شکل نامگذاری می شود: سرکهای منطقوی، سرکهای ملی و ولایتی که در ترانسپورت تجارتی با ارزش می باشد و همچنان (شاهراه حلقوی) که میتواند چهارده ولایت افغانستان را وصل نماید که یکی مهترین شاهراه پنداشته می شود. در حال حاضر این شاهراه حلقوی در صدر توجه حکومت امارت اسلامی قرار دارد و با ترمیم این شاهراه بیشترین مشکلات تراسپورتی زمینی حل خواهد شد.

**با احترام**

**اداره**

## له پاکستان څخه د افغان کډوالو د مالونو پر لېږدوونکو وسایطو خاک پولي معاف سوه





د ګمرکونو لوی ریاست په وړاندیز او د مالیې وزارت مقام په منظورۍ، له افغان کډوالو څخه د ملاتړ او دوی ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه له پاکستان هیواد څخه د دوی د اموالو پر لېږدوونکو وسایطو خاك پولي معاف سوه. له دې وړاندي د افغان کډوالو د مالونو بار د افغاني ثبت سوو لاريو موټرونو څخه د افغانستان خاوري ته د داخلېدو پر مهال (۲۵۰۰) افغانۍ، له کوچنیو موټرونو څخه (۱۵۰۰) افغانۍ او له بهرنیو لاريو څخه (۵۰۰۰) افغانۍ او د کوچنیو موټرونو څخه ئې (۳۰۰۰) افغانۍ د خاك پولي په نوم اخیستل کېدې، چي بانکونو ته د یادو پیسو تحویلي د ګنې ګوڼي لامل کېده او زیات وخت ته ئې اړتیا لرله، چي له دې سره افغان کډوالو په ځانګړي ډول ښځو او ماشومانو ته ستونزي جوړېدې؛ نو د یادو ستونزو د حل او له افغان کډوالو څخه د ملاتړ په موخه د مالیې وزارت مقام پرېکړه وکړه، چي د یادو وسایطو خاك پولي معاف کړي. د یادوني وړ ده، چي د پاکستان حکومت د وروستۍ پرېکړي له مخي، چي افغان کډوال دي خپل هیواد ته ستانه سي، هره ورځ د هیواد د ګمرکونو له لاري د افغان کډوالو په اموالو بار لسګونه موټرونه هیواد ته داخلېږي.

## د ۳۴ ولایتونو مستوفیانو ته روزنیز ورکشاپ ترسره سو




د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د یو لړ مراسمو په ترڅ کي د (۳۴) ولایتونو مستوفیانو ته روزنیز ورکشاپ د عوایدو او ګمرکونو ملي اکاډمۍ د غونډو په تالار کي ترسره کړ. په دغو مراسمو کي اداري مرستیال مولوي حمد الله زاهد، د عوایدو لوی رئیس الحاج شېر محمد مشفق، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر، د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو رئیس ندا محمد صدیقي او د ټولو ولایتونو مستوفیانو ګډون کړی وو. د عوایدو لوی رئیس الحاج شېر محمد مشفق، په پرانیستې وینا کي وویل، چي له دغه روزنیز ورکشاپ څخه ښه ګټه واخلئ او هغه څه مو، چي زده کړل عملي ئې کړئ، ځکه له عمل پرته علم اغېز نه لري. نوموړي مستوفي صاحبانو ته په خطاب کي وویل، چي ستاسو مسؤلیت ډېر اړین دئ؛ ځکه تاسو په ولایتونو کي د مالیې وزارت استازي یاست. خپلو مسئولیتونو ته مو پام کوئ، له والي صاحبانو سره د همغږۍ ترڅنګ په حمیده اخلاقو او مهربانۍ د خلکو ستونزي ور حل کړئ.

ادامه ... ۲ مخ

## د قوشتیپې کانال د افغانانو په مټ تمویلېږي!



د هیواد په کچه د قوشتیپې ستر او ملي کانال، چي د افغانانو په مټ ئې د لومړي فاز چاري پیل سوي وې بشپړ او د دوهم فاز چاري ئې د لوړ پوړو دولتي چارواکو په حضور کي پیل سوې. د هیواد په کچه د دې ستري پروژې د لومړي فاز د بشپړېدو لپاره ټول مالي لګښت د مالیې وزارت له ملي بودیجې او ملي عوایدو څخه ورکړل سوی او هیڅ کوم مرستندویه بنسټ، سازمان او هیواد برخه نه پکښې لري. د یادوني وړ ده، چي ملي عواید او خپلواکه ملي بودیجه د خپل ولس او ملي سوداګرو په مرسته ځکه غښتلې کېږي، چي دوی پر وخت مالیه ورکوي؛ نو ځکه ددې پروژې تمویلوونکي خپله افغانان دي.

## سوداګریزو شرکتونو او صنعتي فابریکو ته د ګمرکونو لوی ریاست خبرتیا!

د ګمرکونو لوی ریاست ټولو هغو سوداګریزو شرکتونو او صنعتي فابریکو ته، چي تر اوسه ئې د خپلو سوداګریزو توکو د ګمرکي طی مراحلو لپاره خپل رسمي استازي نه دي معرفي کړي، یو ځل بیا خبر ورکوي، چي ژر تر ژره خپل استازي د سوداګرۍ او پانګوني او د کانونو او صنعت خونو له لاري د ګمرکونو لوی ریاست او یا هم ولایتي ګمرکونو ته معرفي کړي. د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ د حکم له مخي ټول شرکتونه مکلف دي، چي په ګمرکونو کي خپل توکي د رسمي استازي په مټ طی مراحل کړي. همداشان د دې حکم له مخي یو کس کولای سي، چي د درو شرکتونو استازیتوب وکړي. یاد حکم اوس مهال د هیواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ دئ او د سوداګریز شرکت او صنعتي فابریکو له رسمي استازي پرته بل چاته اجازه نه ورکول کېږي، چي ګمرکي طی مراحل تر سره کړي. د یادوني وړ ده، هغه سوداګریز شرکتونه او صنعتي فابریکې، چي تر اوسه ئې خپل رسمي استازي نه دي معرفي کړي، خپل غوښتنلیکونه دي په مرکز او ولایتونو کي د سوداګرۍ او پانګوني او د کانونو او صنعت خونو ته وسپاري، چي بیا یادي خوني د دوی غوښتنلیکونه د نورو اجراآتو لپاره د رسمي مکتوب له لاري د ګمرکونو لوی ریاست او یا هم ولایتي ګمرکونو ته استوي.




**د ګمرکونو او عوایدو معین د بلخ ولایت له مستوفیت څخه لیدنه وکړه**

م ۲



**د بلخ او تخار په ګمرکونو کي د څه باندي اووه میلیونه افغانیو په ارزښت رغنیزي چاري پیل سوې**

م ۲



**د تورخم په ګمرک کي د قیمتي ډبرو د قاچاق مخه ونیول سوه**

م ۲



**د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له ۱۲۰ تنو څخه د ګومارني ازموینه واخیسته**

م ۲




**له افغانستان سره بهرنۍ پراختیایي او بشري مرستي**


م ۳



Land Tax on Vehicles of Afghan Migrants Goods Transporting From Pakistan Waived

م ٤

SHTAMANAI
اوونیزه




## د گمرکونو او عوايدو معين د آقينې له گمرک څخه ليدنه وکړه




د گمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر ادريس، چي په رسمي سفر فارياب ولايت ته تللی وو، د آقينې گمرک له بېلابېلو برخو څخه ئې هم ليدنه وکړه. نوموړي، په دې ليدنه کي د ياد گمرک ورځنۍ چاري له نږدې و ارزولې او د چارو د لا ښه والي لپاره ئې د گمرک مسؤلينو ته لازمي سپارښتني وکړې.

## کورنيو او بهرنيو موسساتو ته آنلاين روزنيز پروگرام پيل سو



د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست تل هڅه کړې، چي ټولو ماليه ورکوونکو ته غوره خدمات وړاندي کړي. پر همدې بنسټ دا ځل د عوايدو لوی رياست د پاليسۍ او حقوقي خدمتونو رياست د ټولو غير انتفاعي (کورنيو او بهرنيو) بنسټونو لپاره درې ورځنۍ دوه ساعته آنلاين روزنيز پروگرام پيل کړ، چي له (۳۰۰) څخه زياتو کورنيو او بهرنيو بنسټونو پکښي برخه اخيستې وه. په دې روزنيز پروگرام کي گډونوالو ته د کلني اظهارليک ترتيبولو، مالياتي قوانينو او د مالياتي معافيتونو لپاره د اړينو اسنادو د چمتو کولو په موخه لازم لارښودونه وړاندي او په وروستيو کي د مؤسساتو سوالونه هم ځواب سول.
د يادوني وړ ده، چي د دغه روزنيز پروگرام په پای کي د ټولو روزنيزو مواردو سربېره قوانين، طرزالعملونه او لارښودونه هم له گډونوالو سره شريک سول.

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست له ۱۲۰ تنو څخه د گومارني ازموينه واخيسته



د عوايدو لوی رياست له لوري د (۱۲۰) تنو څخه په قراردادي بستونو کي د گومارني په موخه ازموينه واخيستل سوه، دغي ازموينې ته د آزاد رقابت له لاري گډونوالو لاره موندلې وه، چي د برياليتوب په صورت کي به د دغه کال تر پايه پوري د اصنافو د تثبيت په برخه کي په مرکز او ولسواليو کي په دندو وگومارل سي.

## د گمرکونو او عوايدو معين د بلخ ولايت له مستوفيت څخه ليدنه وکړه




د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر «ادريس» د بلخ ولايت مستوفيت څخه ليدنه وکړه او د دغه مستوفيت چاري ئې له نږدې و ارزولې. په دې ليدنه کي ئې د دغه مستوفيت کارکوونکو ته وويل، چي کوم مسئوليتونه چي زموږ پر اوږو دي هغه بايد په بشپړه ايمانداری ترسره کړو، تر څو په دنيا او آخرت کي د «الله جل جلاله» په وړاندي مسئول نه اوسو، اسلامي نظام ته د زړه له اخلاصه کار وکړو او د فساد مخه ونيسو.

## د بلخ او تخار په گمرکونو کي د څه باندي اووه ميليونه افغانيو په ارزښت رغنيزي چاري پيل سوې





د گمرکونو لوی رياست د بلخ حيرتان او د تخار ولايت د ای خانم په گمرکونو کي د (۷.۷) ميليونه افغانيو په ارزښت د رغنيزو پروژو چاري پيل کړې.
په يادو پروژو کښي د حيرتان گمرک د هنگرونو بيا رغونه، د ياد گمرک په لومړي، دوهم او دريم پوړ کي د اداري چارو لپاره د دفترونو جوړول، د بلخ گمرک د آرشيف جوړول او د ای خانم گمرک د اداري ودانيو بيا رغوني شاملي دي.
د دې پروژو بوديجه د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي، چي چاري به ئې تر راتلونکو پنځو مياشتو پوري بشپړي سي.

## هيئت رياست عمومی خزاين به منظور بازديد همه جانبه از امور مستوفيت ها به ولايات بلخ، سمنگان و جوزجان سفر کرد

هيئت تخنيکی ۱۲ نفری رياست عمومی خزاين وزارت ماليه به رياست مشترک ستارالدين معتصم، رئيس سيستم معلوماتی مديريت مالی افغانستان (افميس) و محب الله صاحبزاده، رئيس محاسبات به منظور بازديد از تمامی امور مالی ولايات متذکره از جمله امور آمريت مالی مستوفيت ها، آموزش کارمندان، کنترول مصارف بيجا و جلوگيری از بروکراسی، تقويت روابط ميان مستوفيت ها و ادارات دولتی، ايجاد شفافيت در امور اداری و کوتاه ساختن پروسه های زمانگير، حسابدهی دقيق و همزمان، جمع آوری نظريات مرتبط به تعليماتنامه جديد نقدی و محاسبه جنسی و ديگر موارد مهم مالی به ولايات بلخ، سمنگان و جوزجان سفر نمود.
در سفر هيئت به ولايات متذکره مستوفی ولايت بلخ مولوی منصورالحق ذاکر، مستوفی ولايت سمنگان مولوی بشير احمد نعماني و مستوفی ولايت جوزجان مولوی دين محمد حقنواز در نشست های جداگانه تشريف آوری هيئت وزارت ماليه را خير مقدم گفته و ياد آوری نمودند که آرزو و خواست ما اين بود که هيئتی برای بهبود امور مالی آمريت به مستوفيت بيايد تا در پرتو قوانين تمامی امور مالی اصلاح گردد که خوشبختانه اين امر به حقيقت مبدل گرديد. رهبری هيئت متذکره، محترم ستارالدين معتصم و محب الله صاحب زاده، به کارمندان رهنمايی لازم ارائه دادند تا فرصت را غنيمت شمرده از پرزنتيشن ها و رهنمايی های تخنيکی، مسلکی و عملی در امور مالی و حسابی استفاده اعظمی نمايند. همچنان هيئت متذکره از آنان خواست با توجه به قوانين شرعی، مقررات، متحدالمال ها و هدايات وزارت ماليه در قسمت حفظ بيت المال، صرفه جويی در مصارف اقدامات جدی بعمل آورند.
آمرين مالی مستوفيت ها نيز در رابطه به تمام پروسه های کنونی امور مالی پرزنتيشنی ارائه نمودند که از طرف همکاران تخنيکی کمبودی و مشکلات آن مشخص گرديد. به دنبال آن مسئول هر بخش از هيئت متذکره پرزنتيشنی در مورد امور کاری خود ارائه داده و به سوالات اشتراک کنندگان پاسخ دادند. متعاقباً کارمندان تخنيکی وزارت ماليه از تمامی بخش های مربوط آمريت مالی مستوفيت ها بازديد نموده و در جريان کار در هر بخش به آنها آموزش داده و مشکلات و نواقصی را که آمريت مالی به آن مواجه بوده، از نزديک حل نمودند. همچنان چالش ها و مشکلات بزرگ در سطح کشور را يادداشت نموده تا به منظور اطلاع رسانی و اتخاذ تصاميم لازم به مرکز بياورند.
متعاقباً جلسات مشترك با رؤسای ادارات مستقل به رهبری واليان ولايات متذکره به منظور تقويت هماهنگی، صرفه جويی در مصارفات، بهبود پروسه های امور مالی، جلوگيری از مصارفات غير ضروری، تطبيق احکام و فرامين رهبری امارت اسلامی، قانون امور مالی و مصارف عامه، هدايات و متحدالمال های وزارت ماليه نيز داير گرديد. در جلسات مذکور رؤسای نامبرده، در مورد اهداف سفر شان، حفاظت از بيت المال، چگونگی مصارف از بيت المال و جمع آوری عوايد دقيق و شفاف، تقويت و بهبود هماهنگی با ادارات ولايتی مفصلاً بحث نموده و خاطر نشان ساختند که اين سفر ها به ۳۳ ولايت کشور جهت اطلاع رسانی از وضعيت اقتصادی کشور صورت خواهدگرفت. همچنان رئيس محاسبات، پرزنتيشنی با محتوای وظايف و مسئوليت های عمده و مهم رياست عمومی خزاين، موقف و اهميت مستوفيت ها در ولايات، مصارف و عوايد ولايات در سال مالی ۱۴۰۱ هـ.ش، مصارف ضروری و غير ضروری سال مالی ۱۴۰۲ هـ.ش، به اشتراك کنندگان ارائه گرديد.
بعداً هيئت متذکره به سوالات و خواست های رؤسای ادارات جواب قناعت بخش داده و ياد آوری نمودند که خواست های آنان جهت اجراآت با مقامات ذيربط در ميان گذاشته خواهد شد.
پس از جلسات مشترك با رؤسای ادارات دولتی، جلساتی با آمرين مالی و اداری به منظور تطبيق اهداف ذکر شده و استماع مشکلات آنان در پروسه های مالی نيز داير گرديد که در آن سوالات زيادی از جانب اشتراك کنندگان مطرح گرديد که از جانب هيئت متذکره جواب قانع کننده توصيه های لازم داده شد.

## د تورخم په گمرک کي د قيمتي ډبرو د قاچاق مخه ونيول سوه



د تورخم گمرك کارکوونکو په يوه صادراتي محموله کي (۲۲۱.۹۹) کيلوگرامه قيمتي ډبري، چي په ځانگړو پوښونو يا (بار جامو) کي ځای پر ځای سوي وې کشف او ونيولې.
دغه ډبرې چي په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي وې او قاچاق وړونکي غوښتل، چي په پټ ډول ئې گاونډي هيواد ته ولېږدوي.
د يادوني وړ ده، چي له دې وړاندي هم د ياد گمرك کارکوونکو د بېلابېلو قاچاقي او ممنوعه توکو له وارداتو او صادراتو څخه مخنيوی کړی او عاملين ئې اړونده ارگانونو ته ور پېژندلي دي.

### د ۳۴ ولايتونو مستوفيانو ته...

د ماليې وزارت اداري مرستيال مولوي حمد الله زاهد، مستوفيانو ته ښه را غلاست ووايه او زياته ئې کړه، چي الحمد الله د کمونيستي او سوسياليستي نظام له پرځولو وروسته د مجاهدينو په مټ يو اسلامي او فکري نظام رامنځته سوی، چي په مالي، اداري، اقتصادي، سياسي او ټولنيزو برخو کي برياللی دئ. هغه له مستوفيانو څخه وغوښتل، چي په ولايتونو کي د ماليې وزارت د استازو په صفت خپل کارونه په ښه او صادقانه توگه مخته يوسي او د يوه مسلمان په توگه ئې ځواب ويونکی و اوسي.
د کندهار ولايت مستوفي الحاج ملا حکمت الله آخند (ملا محمد رفيق) د مستوفيانو په استازيتوب له دغه پروگرامه خوښي څرگنده کړه او د مستوفيت د ارزښت په پام کي نيولو سره ئې خپل نظرونه او وړانديزونه شريك کړل.
د يادوني وړ ده، چي دغه پرواگرام د يوې اوونۍ لپاره ترسره کېږي او د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست، د خزاينو لوی رياست، د بشري سرچينو رياست، د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست، د ليلام آمريت د مسئوليتونو او دندو، د برسی د اجراآتو، قانون نافذولو، مالياتي او غير مالياتي عوايدو، تدارکاتي طرزالعمل، مالي او حسابي چارو، خدماتي، قوانينو، مقررو، طرزالعملونو، د افميس سيستم له لاري د پروسيجرونو، د لگښتونو کاري پروسيجرونو، د تادياتو پروسې او نورو اړينو موضوعات په تړاو مستوفيانو ته معلومات ورکول کېږي.

## د يو شمېر ولايتي گمرکونو آمرينو ته روزنيز ورکشاپ پيل سو

د گمرکونو لوی رياست له لوري د يو شمېر ولايتي گمرکونو آمرينو ته د (اسيکوډا) له سيستم سره د بلدتيا او د اړوندو (تقنيني سندونو) د لا ښه پوهاوي په موخه (۱۸) ورځنی روزنيز ورکشاپ پيل سو.
په دې پرانيستغونډه کي، چي د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رئيس مفتي عبدالمتين سعيد او د بشري سرچينو رئيس ښاغلي مولوي احمدشاه شاکر گډون کړی وو، په پيل کي د گمرکونو لوی رئيس ټولو گډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنگ د چارو د لا ښه والي لپاره د داسي روزنيزو ورکشاپونو جوړول ډېر مهم ياد کړل. همدا رنگه نوموړي د ولايتي گمرکونو آمرينو ته په اخلاص سره د اړوندو چارو تر سره کولو، په خپل وخت سره د ستونزو حلولو، د کارکوونکو تر منځ د باور فضاء او لا ښې همغږۍ د رامنځته کولو په اړه لازمي سپارښتني وکړې.
د گمرکونو لوی رئيس د ياد ورکشاپ گډونوالو ته وويل، چي له دې روزنيز ورکشاپ څخه د شته ستونزو د حل په برخه کي پوره گټه واخلي او زده کړل سوي موضوعات له خپلو اړوندو همکارانو سره هم شريک کړي.
د ماليې وزارت د بشري سرچينو رئيس هم د دې روزنيز ورکشاپ د ارزښت او له مراجعينو سره د ښه سلوك په اړه هر اړخيزي خبري وکړې.
د يادوني وړ ده، چي په دې روزنيز ورکشاپ کي د يو شمېر ولايتي گمرکونو (۱۵) تنو آمرينو گډون کړی، چي دوی ته به د اسيکوډا له سيستم سره د بلدتيا او د اړوندو تقنيني سندونو د لا ښه پوهاوي په برخو کي عملي او نظري روزنه ورکړل سي.

شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونيزه

# له افغانستان سره بهرنۍ پراختیايي او بشري مرستي

محمد طاوس فرزاد

**بهرنۍ نړیوالي مرستي د یوه هیواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې مثبتي اغېزې لري، د همدې مرستو په مټ کورنۍ ناخالصه ګټه او د سړي سر ګټه لوړېږي**

لکه څرنګه چې ټولو ته جوته ده، افغانستان د یوه مهم اقتصادي او سیاسي جغرافیايي موقعیت په درلودلو سره، تل د نړۍ د زبرځواکو هیوادونو د پام وړ مرکز پاتي سوی دئ، له همدې کبله د تاریخ په اوږدو کي له لوړو ژورو سره مخ سوی دئ. د څو لسیزو په اوږدو کي، د ګڼو بهرنیو هیوادونو د یرغلونو او شخړو له امله د افغانستان د نورو برخو د زیانمنېدو تر څنګ، اقتصادي بنسټونه ویجاړ او سخت زیان من سوي دي، چي د دغو بنسټونو بیا رغول، یوباثباته او پیاوړي اقتصاد ته اړتیا لري. په اوسني عصر کي هیڅ یو هیواد نه سي کولای، چي په یوازي توګه ټولي چاري په ښه توګه تر سره کړي او خپلو موخو ته ورسېږي، د کمي ودي هیوادونه له کورنیو عوایدو نسي کولای هغه غټي بنسټیزي پروژې، چي د خلکو په ژوند کي له اقتصادي پلوه په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه اغېزې لري تمویل کړي؛ نو په دې اساس بهرنیو پراختیايي مرستو ته اړتیا لیدل کېږي.

## له ۲۰۰۲ – ۲۰۲۱ز کال پوري د بهرنیو پراختیايي مرستو اغېزې:

بهرنۍ نړیوالي مرستي د یوه هیواد په اقتصادي وده او پرمختګ کي مثبتي اغېزې لري، د همدې مرستو پر مټ کورنۍ ناخالصه ګټه او د سړي سر ګټه لوړېږي، د بې روزګارۍ او بېوزلۍ کچه ټیټېږي، د وګړو د ژوند سطحه لوړېږي او په ټوله کي د اقتصاد د غوړېدو او وګړو ته ئې د هوساینې سبب ګرځي، د دوو لسیزو په اوږدو کي بهرنیو مرستو او اقتصادي اغېزو ته کتنه کوو:

له (۲۰۰۲)ز څخه تر (۲۰۲۱)ز کال پوري له افغانستان سره د مختلفو کنفرانسونو په ترڅ کي دوه اړخیزه او څو اړخیزه مرستندویه او نړیوالو مالي بنسټونو لخوا په میلیاردونو امریکایي ډالره پراختیايي مرستي تر سره سوې، چي له لاري ئې په افغانستان کي د کرنې، روغتیا، ټرانسپورټ،




پوهنې، اقتصاد او نوري ګڼې بنسټیزي پراختیايي پروژې تمویل او تر سره کړای سوې، چي د هیواد د اقتصادي پراختیا، د ظرفیتونو رامنځته کولو او د بېکارۍ د کچې په کمولو کي ئې د پام وړ رول لوبولی دئ.

## له افغانستان سره د نړیوالو بشري مرستو اغېزې:

په افغانستان کي د سیاسي بدلون او د اسلامي امارت په ټینګښت سره ټولي بهرنۍ پراختیايي مرستي وځنډېدلې، چي له امله ئې په افغانستان کي د پراختیايي پروژو کارونه په ټپه ودرېدل او په پایله کي ئې د هیواد پر اقتصادي وضعیت ناوړه اغېزې وغورځولې او د پراخې بېکارۍ سبب سوې. بشري مرستي په بېړنیو او خاصوحالاتو کي د لومړنیو خوراکي توکو او نغدو پیسو په بڼه وېشل کېږي، تر ډېره د هغه مرستي مقطعې دي، چي د هیواد په اقتصادي پرمختګ او د بېکارۍ د کچې په کمولو کي هیڅ ډول اغېزې نه لري او په بحراني او خاصو حالاتو کي تر سره کېږي. په (۲۰۲۱)ز او (۲۰۲۲)ز کلونو کي له افغانستان سره د نړیوالي ټولني او مالي نړیوالو بنسټونو بشري مرستي د ملګرو ملتونو او نورو غیر دولتي ادارو او بنسټونو له لاري ترسره سوي دي، چي د دغو مرستو یوه غټه برخه د ملګرو ملتونو او نورو غیر دولتي ادارو او بنسټونو په اداري او نورو مصارفو لګول کېږي، چي د بشري مرستو اغېزې تر ډېره کموي. که چیري دغه مرستي د افغانستان د ملي بودیجې له لاري تر سره سي، تر ډېره اغېزناکي تمامېږي. له بل اړخه که چیري د (۱۳۹۹ )ل کال ملي بودیجې سند ته لنډه کتنه وکړو، لیدل کېږي، چي د افغانستان د (۱۳۹۹)ل کال بودیجه (۱۳۹،۲۷۹،۹۵۳،٦۹۱) میلیارده افغانۍ وه، چي د پام وړ برخه (۲۰۷،۰۸۳،۵۳۹،۹۱۹) میلیارده افغانۍ د بهرنیو پراختیايي مرستوڅخه تمویلېده او د دغو مرستو په چوکاټ کي د برېښنا، ټرانسپورټ، کرنې، پوهنې، کارموندنې او داسي نورو برخو کي لګول کېږي، چي د افغانستان د آبادۍ او اقتصادي پراختیا تر څنګ، د بېکارۍ د کچې کمولو او د خلکو پر ژوند له اقتصادي اړخه مثبتي پایلي لري. بهرنۍ پراختیايي مرستي د بشري مرستو په پرتله له هر اړخه ګټوري او اوږد مهالي اقتصادي او ټولنیزي اغېزې لري، چي د هیواد د آبادۍ او پرمختګ تر څنګ د خلکو د هوساینې او ښه ژوند د زمینې برابرولو سبب هم ګرځي.

# د مستوفیتونو نویو ګومارل سوو کارکوونکو ته آنلاین مدیریتي روزنه ورکول کېږي

د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د یوې ناستي په ترڅ کي د ولایتي مستوفیتونو د نویو ګومارل سوو کارکوونکو لپاره د دغه وزارت اداري معینیت د غونډو په تالار کي آنلاین مدیریتي روزنیز پروګرام پیل کړ. په دې ناسته کي د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د تدارکاتو رئیس مولوي عتیق الله کریمي او د مالیې وزارت یو شمېر مسئولینو هم حضور درلود. د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر د دغه پروګرام په پرانیستې وینا کي وویل، چي دغه مدیریتي روزنیز پروګرام ستاسي لپاره چمتو سوی دئ؛ تر څو د مدیریت له اصولو او اساساتو سره آشنا سئ او خپلو ګرانو هیوادوالو ته د غوره خدمت جوګه وګرځئ. هغه زیاته کړه، چي له شته امکاناتو څخه په استفادې په خپل ځان او اداره کي مثبت بدلونونه رامنځته کړئ. د تدارکاتو رئیس مولوي عتیق الله کریمي د بشري سرچینو له ریاست څخه د کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړولو په موخه د دغه ډول پروګرامونو د ترسره کولو په پار مننه وکړه او زیاته ئې کړه، چي دغه اسلامي نظام د دې ملت د ډېرو قربانیو په پایله کي واک ته رسېدلی دئ، خلک باید ناهیلي نه کړئ او له هغوی سره په غوره اخلاقو او ورین تندي چلند وکړئ. اداري اصول زده کړئ او له ژبني، قومي او مذهبي تعصب څخه ډډه وکړئ. ناسته په دعایې سره پای ته ورسېده او درسونه رسماً پیل سول. د یادوني وړ ده، چي دغه پروګرام به (۵) ورځې دوام وکړي او د مدیریت د اصولو، د اداري د پراختیا آمریت د اجراآتو پروسیجرونو، له کارکوونکو سره د اړیکو آمریت د کاري پروسیجرونو، د روزني او ظرفیت لوړوني آمریت د پروسو د اجراآتو او سوانحو د ارزوني او نورو مهمو مسائلو په اړه به ګډونوالو ته روزنه ورکړل سي.






# اعلانات داوطلبی

**د کابل ولایت (۱٦) مي ناحیې اړوند لومړي مکروریانو سره د (۴۲۷۱.۸) متره مربع ځمکي او دوه بابه هنګرونو د مزایدې خبرتیا!**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت (۱٦) مي ناحیې اړوند لومړي مکروریانو سره د (۴۲۷۱.۸) متره مربع ځمکي او دوه بابه هنګرونه د مزایدې لپاره اعلان ته وسپاري، چي لومړنۍ میاشتنۍ قیمت ئې (۵۵۱۲۰۰) افغانۍ دئ. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي نوموړی ملکیت د ذکر سوي قیمت څخه په لوړ قیمت تر لاسه کړي، کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني او لومړي قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد**

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه ترمیم چهار باب هنگر و ذخیره آب گمرک اسلام قلعه و ترمیم تعمیر اداری دارای نمبر قرارداد ۰۳۹-W/۱٤۰۲/MOF را با شرکت ساختمانی و سرکسازی شاه آغا دارنده جواز نمبر D-۳-۲۲۲۳ به قیمت مجموعی مبلغ ۲،٤٤۱،۹٦٥ (دو میلیون و چهارصدو چهل و یک هزار و نهصدو شصت و پنج ) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند می تواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات، آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

**د کابل ولایت (۷) مي ناحیې سره د (٦) جریبه او (٦) بسوې ځمکي د مزایدې خبرتیا!**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت اړوند (۷) مي ناحیې سره (٦) جریبه او (٦) بسوې دولتي ځمکه د مزایدې لپاره اعلان ته وسپاري، چي لومړنۍ میاشتنۍ قیمت ئې (۳۰۵۰۰) افغانۍ دئ ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي نوموړی ملکیت د ذکر سوي قیمت څخه په لوړ قیمت تر لاسه کړي، کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۷) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني او لومړي قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

**د کابل ولایت د (۱) او (۱٦) مي ناحیو اړوند د دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت په (۱) او (۱٦) مه ناحیو کي لاندي دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وسپاري.

۱- د کابل ولایت لومړۍ ناحیې د سرچوک په تلي کوڅه کي یو دربند حویلۍ، چي (۱۲۹،۵) متره مربع مساحت لري.

۲- د کابل ولایت (۱٦) مي ناحیې اړوند په نساجي بګرامي کي د (۲۰۰) متره مربع په مساحت ځمکه.

۳- د کابل ولایت (۱٦) مي ناحیې اړوند په نساجي بګرامي کي د (۲۰۴۲) متره مربع په مساحت ځمکه، سره د (۴) اطاقونو.

۴- د کابل ولایت (۱٦) مي ناحیې اړوند په نساجي بګرامي کي د (۲۷۲۴.۴) متره مربع په مساحت سره (۳) بابه هنګرونه او دوه بابه اطاقونه.

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۷) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني او لومړي قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.



شتمنی SHTAMANAI

اوونیزه

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت

مسؤل مدير: احمد ولي حقمل

مرستیال: شمس الدين عاطف

د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبپاڼه: mof.gov.af

تویتر: Ministry of Finance - Afghanistan @

یوتیوب: afghanistan mof

شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)




## Qushtapa Canal Funded By Afghans



Countrywide, the first phase of great Qushtapa National Canal that had been gotten under way was accomplished and the second phase was incepted in the presence of high-ranking government officials. The entire financial cost for the completion of the first phase of this major project at the country level has been paid from the national budget and national revenues of MoF, and no aid institution, organization or country has participated. It is certainly worth mentioning that the national revenues and the independent national budget are strengthened by means of the nation and national businessmen due to they pay taxes timely; therefore, the sponsors of this project are Afghans themselves.

## Smuggling of Precious Stones Prevented at Torkham Customs

Torkham Customs officials has discovered and seized 221.99 kg of precious stones in an export shipment, which were embedded in their particular covers. The stones that were embedded skillfully and the smugglers wanted to smuggle them to Pakistan secretly. Notably, before this, the said customs staff prevented the import and export of various contrabands, and prohibited goods and identified the perpetrators to the relevant bodies.




## Land Tax on Vehicles of Afghan Migrants Goods Transporting From Pakistan Waived

With the proposal of General Directorate of Customs and the approval of the MoF, in order to support Afghan migrants and create facilities for them, the paid land taxes on vehicles transporting their goods from Pakistan was exempted. Before this, the load of goods of Afghan migrants, Afghan registered trucks, while entering the territory of Afghanistan were supposed to pay 2,500 Afs land tax, for small cars 1,500 Afs, foreign trucks were supposed to pay 5,000 Afs and finally foreign small cars were to pay 3,000 Afs as land taxes. Paying land taxes caused congestion and required a lot of time to deliver the said amount of money to the banks, which created problems for the Afghan residents,



especially women and children; therefore, with the intention to solve these problems and support the Afghan people, the domicile of Ministry of Finance decided to waive the land taxes of these vehicles. It is worth mentioning that since the recent decision of the government of Pakistan to make Afghan refugees return to their country, every day dozens of vehicles hauling the goods of Afghan refugees enter the country through the Afghans' customs.

## Online Training Program Provided for Domestic, Foreign Organizations



The General Directorate of Revenues of MoF has always tried to come up with the best services to all taxpayers. In its turn, the Directorate of Policy & Legal Services of GD of Revenues launched a three-day, two-hour online training program for all non-profit domestic and foreign organizations, which was attended by more than 300 domestic and foreign institutions. In this training program, the necessary guidelines were issued to the participants in order to prepare the necessary documents for the preparation of the annuale-filing, tax laws and tax exemptions. Latterly, the questions of the institutions were answered. Notably, at the end of this training program, despite to all the training events, laws, procedures and guidelines were also shared with the participants.

## Construction Works Cost More Than 7.7 Million Afs Launched in Balk, Takhar Customs



General Directorate of Customs has started the construction projects worth about 7.7 million Afs in Hairatan Customs of Balkh and Takhar's Iykhanam Customs. The projects include the reconstruction of hangars of Hairatan Customs, the construction of offices for administrative affairs in the first, second and third ports of the said customs, the construction of the archive of the Balkh Customs and the administrative buildings of the Iykhanam Customs. The budget of these projects is paid from the development budget of MoF, which their constructions working process will have been completed within the next five months.

## Delegation of General Directorate of Treasury Travels to Balkh, Jawzjan, Samangan Provinces

members technical delegation-۱۲ A of General Directorate of Treasury of MoF headed by the Director of AFMIS (Afghanistan Financial Management Information System), Sataruddin Mutasim and Director of accounting, Muhibullah Sahibzada traveled to Balkh, Jawzjan and Samangan provinces and evaluated the .financial affairs of provincial administrations The delegation met with the financial officers of all provincial bodies, including provincials Mustofiyats (Financial Department), with the intention to clear up the problems in the implementation of expenses, so that the provincial agencies can implement their .expenses timely and in accurate manner The delegation consulted with the officials regarding to preventing wasteful expenses, ending bureaucracy, strengthening coordination between Mustofiyats and provincial agencies, bringing transparency and improvement in administrative actions, shortening long processes, accurate and timely accounting, .and other related issues